# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| مسایل ایدیولوژیک | Ideological |
| --- | --- |



محمد هارون خپل شعشعي


۰۷ اپریل ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۴۴

**۱۰۵- رياضت :**

رياضت په لغت کي بدني تمرين، ورزش، ګرځېدو، استراحت، ارام، هوسايني، د بوده وو ( په تېره بيا بيانړ/بيهانړ) ارامولو او پر لار روږدولو ته وايي[۱] . رياضت په تصوفي او عرفاني بحثوکي د نفس د پاکی، نېکو اخلاقو او الهي رضا د تر لاسه کولو دپاره په عبادت، تفکر، يوازيتوب او داسي نورو بنو سره، د يو لړ ربړونکو کوښښو او ستونزمنو لارو چارو عملي کولو ته وايي .

د تصوفي او عرفاني مسألوځينو ليکوالو، د رياضت تر عنوان لاندي د اسلامي تصوف او عرفان ډېري نوري مسألي هم رانغښتي دي؛ د مثال په توګه د« عرفان نظری : تحقيقی در سيرتکاملی و اصول و مسايل تصوف » ليکوال ، بناغلي ډاکټر يثربي، له شهوتو او لذتو څخه سترګي اړول، له نفساني هوا و هوس سره جګړه ( چي په نبوي احاديثو کي د لوی جهاد په نامه ياده سوې ده)، د شان او شوکت پرېښوول، تر نام و ننګ تېرېدل، د نورو درناوي او سپکاوي ته نه پاملرنه، له علايقو او اړېکو څخه د باطن پاکول، د وسوسو او انديښنو له منځه وړل، د حق تعالی درګاه ته د رسېدو په هيله د زرګونو نازکو او دقيقو ټکو عملي کول؛ او په يوه کلام کي له طبيعي نړی څخه اختياري مړينه [ موت قبل ان تموت ]؛ او په غير طبيعي عالَم کي د بيرته ژوندي کېدو په خاطر نه ستړي کېدونکي هڅي، ټول د رياضت په نامه يادي کړي دي[۲] .

دا سلام نامتو فيلسوف او وتلی حکيم - شيخ الرييس ابوعلي سينا ( ۳۷۰- ۴۲۸ هـ ق ) د رياضت مقصدونه داسي شمېري :

- پر اماره نفس باندي، د مطمينه نفس شعوري واکمني .

- د وينتوب او خبرداری په مقصد د باطن پاکول[۳].

د نوس ( نفس) سپېڅلتیا، د ریاضت د ارزښتناک او اساسي عنصر په توگه، د تصوفي او عرفاني مخکښانو په زياترو آثارو کي پراخ انعکاس موندلئ دئ . د تصوف او عرفان په کړییوکي کله کله داسي هم ليدل سوي دي، چي سالکانو د رياضت په نامه د خدای تعالی له حلالو نعمتو څخه مخ اړولئ دئ؛ او په دې توگه يې د اعتدال معقوله او عملي لار پرېښي ده . د نوس د تزکيي او تهذيب په نامه له هر حلال او روا شي څخه مخ اړونه، په اسلامي نصوصو کي، ناوړه عمل گڼل سوئ دئ؛ د مثال په ډول، د قرآن کريم د مايدې د سورت په اووه اتيايم آيت ( ۵ : ۸۷) کي په دې اړه داسي امر سوئ دئ : « يايهاالذين آمنوا لاتحرموا طيبت مآ احل الله لكم و لا تعتدوا ان الله لا يحب المعتدين » ياني اې مؤمنانو! هغه څه پر ځان مه حراموئ، چي الله ستاسي دپاره حلال کړي دي؛او تېری مه کوئ . په رېشتيا سره، الله تېري کوونکي نه خوښيي .

د اسلام ستر پیغمبر- حضرت محمد ( ص ) انساني خوی او فطرت ته په پام سره، په دې باب داسي لارښوونه کيي (کوي) : « تاسي پر خپلو ځانو حق لرئ . په دې توگه د روژې پر مهال روژه ونيسئ؛ او کولای سئ په نورو وختوکي روژه ونه نيسئ . کولای سئ د شپې له خوا، هم ويښ اوسئ او هم خوب وکئ؛ ځکه زه د شپې له خوا هم خوب کوم؛ او هم ويښ اوسم . روژه هم نيسم؛ خواړه هم خورم؛ او له ښځو سره هم ناسته ولاړه کوم . » رسول الله ( ص) د زهد او رياضت په نامه، د دونيا له هر روا نعمت او لذت څخه، د سترگي پټولو په باره کي بل ځای داسي يادونه کيي : « ولي ځينو ښځه، خوراک، عطر، خوب او د دونيا ټول لذتونه پر ځان حرام کړي دي . ماهيڅکله تاسي ته لارښوونه نه ده کړې، چي دونيا پرېږدئ . روژه، زما پيروانو ته د گرځېدني؛ او جهاد د رهبانيت او دونيا پرېښوولو حيثيت لري[۴] . » په دې ډول گورو، چي د بود يزم، نصرانيت او ځينو نورو ديني او فکري لارو په پرتله، په اسلامي شريعت او عرفان کي، د انسان مادي او روحي اړتياوو ته ډېر پام سوئ دئ . انسان ته د رياضت په پراخ ډگر کي د منځنۍ لاري لارښوونه او سپارښتنه سوې ده . دا لار د انسان له فزيکي او رواني جوړښت؛ او په نتيجه کي له عقل او منطق سره بشپړ سمون لري؛ ځکه تفريط او افراط دواړه له انساني ځانگړتياوو سره برابري نه لري؛ او په پای کي د بې لارۍ، ناکامی او بدمرغۍ اسباب را منځ ته کيي .

رياضت، د عرفاني طريقت له لومړنيو او اساسي اړخو څخه دئ . له همدې امله عرفاني سالکانو زياتره، له زُهد او رياضت څخه د حقيقت موندني او الهي ميني پر لور گامونه اخيستي دي .

رياضت، په روښانيانو کي هم لوړ او ارزښتناک صفت گڼل سوئ دئ . د پښتنو عرفاني او سياسي لارښود - بايزيد روښان ( ۹۳۱- ۹۸۰ هـ ق) له کوچني والي څخه د رياضت او عرفان پتنگ ؤ . په « دبستان مذاهب » کي د بايزيد روښان د رياضت په باب داسي راغلي دي : « پير روښان غوښته، چي د خپل اکا د زوی، شيخ اسماعيل، په لاس نيوني د سير او سلوک سفر پيل کړي؛ مگر پلار يې، قاضي عبدالله، د دې کار خنډ سو . وروسته بايزيد روښان له غيبه د رياضت پر لور گام اخلي؛ ا و د شريعت، طريقت، حقيقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او سکونت د عرفاني مقامو تر تېرولو وروسته، ځان د حق تعالی تلپاتي هستی ته رسيي[۵] .

» د پير روښان د عرفاني ژوند په باب دا بيان له ورايه جوتيي، چي رياضت د پټو حقيقتوپه کشف او موندنه کي د هغه د عرفاني سير او سلوک خوځونکی ځواک ؤ . لکه څنگه چي د « حالنامې» ليکوال کاږي، ميا روښان د پرله پسي رياضتو او کوښښوپه مرسته د ذات معرفت او د توحيد پوهه تر لاسه کړه؛ او په پای کي د وحدت او سکونت و لوړو عرفاني مقامونه ورسېدئ . پير روښان، په ټينگه باور لاره، چي خدای بې ربړه نه تر لاسه کيږي؛ ځوک چي د لاري تکليفونه او سختی تېري نه کي؛ له ډېرو او زوزانو ډک دښتونه په پښو و نه وهي،

هیڅکله د مُراد کعبي ته نه رسیږي۶ . پیر روښان په خپل نامتو اثر « صراط التوحید » کي د روښاني طریقت د سالکانو د اوو صفتو په لړ کي پر لږ خوړلو، لږو او نېکو خبرو، لږ خوب، ګوښه توب او پټ ذکر ټینګار ګړئ دئ۷.

زموږ عارف شاعر، علي محمد مخلص، هم په خپل دیوان کي د نوس د بد ذاته ښامار په اِیل کولو کي درياضت مسألې ته په خورا لوړه سترګه ګوري . د ده په اند، د نوس سرکښ بیاڼ، د رایض له ریاضت سوارۍ پرته نه پر لار کیږي :

نوس ناتېز یي بیهاڼ کیږي تېز بی نه کاندي بی کپه
د روزی کپ یي په خوله کړه چي په پراتــه نه که ترپه
سر یله آموختـه شوئ تر تېز نه دئ لاندي شوئ
روح شهسوار پري باندي سوار کړه چي په هر لور یي که دپه

په بله غزله کي د اروا، نوس او زړه تر منځ د یوې په زړه پوري پرتلې په ترڅ کي هغه څوک غښتلی او مېړه ګڼي، چي د اروا لوړ عالَم ته د رسېدو په هیله، په هر کار کي خپل سراښ او زبون نوس وترټي :

چي تړلئ یي د نوس حریص خره منځ دئ
د روژې په ریاضت یي نوسک ترنځ دئ
زړه، ارواح به یي قوي شي په صورت کښي
چي یي نوس ډنګر د ریاضت په رنځ دئ
روح پدر، نوس یي مادر دئ په جهان کښي
زړه فرزند پیدا د روح، نوسک تر منځ دئ
پهلوان، شجاع هغه دئ د بللو
هر چي نوس یي په درون کړئ شکنـځ دئ

***

چي د نوس هوا یي زبر کړه په رښتـیا ده د مرد لاپه
چي پر زړه یي نوس حــــاکم وي ناروا ده د مرد لاپه
چي لښکر د نوس زبون که او مقهور شیطان مغبون که
روح بادشاه په اندرون که اوس زیبا ده د مرد لاپه

د نورو مالوماتو دپاره وګورئ : تصوف، زهد او زاهد، عبادت او عابد، دونیا، عقبا او مولا، عرفان او معرفت .

لمنلیکونه

۱ عمید ۲: ۱۲۷۹ ؛ Wher 367.

۲ یثربي، عرفان نظری : تحقیقی در سیرتکاملي و اصول و مسایل تصوف ۴۲ .

۳ یثربي، فلسفهٔ عرفان : تحلیلی از اصول و مبانی و مسایل عرفان ۲۷۳.

۴ یثربي،  فلسفهٔ عرفان : تحلیلی از اصول و مبانی و مسایل عرفان  ۲۳۲.

۵ اسفندیار  ۲۸۰.

۶ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۲۰۵ .

۷ روښان،  صراط التوحید ۸۴ ؛ حبیبي، د پښتو ادبیاتو تاریخ  ۲: ۳۳۹ .

پاته لري